AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

نویسنده : عبدالحی نیا زی

تاریخ 29/01/2008

# د افغا نستان درې اړخيزې ستونزې

د بن د تحميلی تا ريخی تړون د پلې کيد و څخه وروسته له يوې خوا په افغانستان کې يو لړ نوې سياسی، اقتصادی اوټولنيز بدلونونه منځ ته راغلی او دبلې خوا يو شميرملی ، سيمه ييز او د نړيوالو هېوادونو حساساسيتونه او غبرګونونه راوپارول او د منځنی او جنوب لويزې آسيا عنعنوی د يتا نت ( دقواو انډول) چې د سوړجنګ څخه وروسته ټينګ شوې د امريکا متحده ايالاتو او ناتو په ګټه پای ته ورساوه.

دبن د تړون دپلی کيدو سره سم نه يوازې جلاوطن واکدار برهان الدين ربانی خپل رياست جمهوری بايله بلکې د افغانستان پخوانی پاچا دخپل درې فقره ييز پلان سره دافغانستان د سياسی ډګر څخه ووت خو د مرحوم پاچا د مشورتی ګروپ غړی حامد کرزی واک په داسې حال په لاس کې واخست چې د کابل ښار سره له دې چې دبن تړون سره سم بايد غير پوځی پاته شوې يو ځل بيا دشمال تلوالې تر ولکې لاندې راغی. دشمال تلواله چې په کورنيو جګړو او اداری فساد کې لوی لاس درلودله يو ځل بيا په يوه لويه سياسی او پوځی واک باندې بدله شوه. د شمال تلوالې ډ دغه پوځی برلاسی اغيزه په موقته ، انتقالی اومنتخب حکومت کې پاته شوه.له بده مرغه منتخب حکومت هم د ائتلافی نظام ډول غوره کړه او لکه هر آئتلافی حکومت د سبوتاژ سره مخامخ شو.

دملی اړخ له پلوه افغان دولت د ملی واکمنئ په ټينګښت کې پاته راغی ، دښايسته سالاری د نشتوالې له امله حکومت په اداری فساد کې ډوب شو، د تيرونظامونو ملی خائينين ، د بشری حقوقو ناقضين وبخښل شول، د مخدره موادو توليد او قاچاق معمول شو، د نړيوالې ټولنې اقتصادی مرستې په اغيزمنه توګه مصرف نه شوې او لنډه داچې اجرائيوی قوا ، مقننه قوا او قضايه قوا لکه چې هيله کيدله په دې باندې بريالی نشول چې خپل رغنده او جوړونکې دنده په ملی سطحه ولوبوې برعکس نن ولسی جرګه د اجرائيوی قوا پلانونه شنډ وی او قضايه قوا نه د ملی شورا او نه د حکومت له خوا ملاتړ تر لاسه کوی چې دغسې نظام ته ناکامه دولت وايی.

د بن د تړون ستر لاسته راوړنې اساسی قانون ، منتخبه ولس مشری نظام ، ملی شورا دی او يو شمير ټولنيز ارزشتونه دي. خو بن د غوندې متشګله موزائيک سياسی قومی جوړښت او دهغه د قومی ډوله جوړښت انعکاس د موقتې ادارې په چوکات کې سبب شو چې د لومړی ځل دپاره دفغانستان حکومت اوسيمه ښه غوره کړي او د حکومت په چوکات کې ډ ملی مصلحت ، ښايسته سالارې ، پروفشنليزم او سياسی اړيکې ځای قومی او سيمه ييزې اړيکې ونيسی چې د دې سياسی تيروتنې مسؤليت دنړيوالې ټولنې په غاړه دی او په نتيجه کې په کابل کې داسې حکومت ټينګ شو چې د خپل امنيت د پاره تر ننه پورې نيازمند دی. د دې دليل لاڅرګند نه چې ولې د افغانستان منتخب دولت په لوی لاس د اداری فساد او درغلی سره مخامخ شو او د بيا رغاونې په چاروکې د پنځه لس مليارد دالرو مرستې د ترلاسه کولو سره سره دومره چې افغان ولس طمع کوله پاته راغی.

دملی ليد لورې له پلوه ترټولو لوی تاوان چې حکومت خپل ښست او افغان ولس ته رسولې په دولتی چارو ګې بی سارې اداری فساد او بروکراسی ټينګښت دی چې د حکومت د پرمختګ او د ولس د اعتماد مخ ډب کړی دی.

د اداری فساد د عواملو او عواقبو څيړل هراړخيز څيړنې ته اړتيالری. دايوه جدی مساله ده او بې له شکه راتلونکې حکومت ته په ميراث پاته کيږی.

د اداری فساد د ټينګښت په لوړو دولتی ځوکيو کې دځينو څيرونکيو په باور کوږوالې د بن په تړون کې وينې يعنې د ربانی حکومت پر ښست مصلحتی حکومت جوړيدل ، د انجيوګانو سره نړيوالې مستقيمې مرستې ، د ملګروملتونو ا اداری فساد تداوم ، د جنګسالارانو، د مخدره موادو مافيا موجوديت په اداری نظام او د اداری فساد اوبروکراسی د ټينګښت علت په ټيټ رتبه دولتی مامورينوکې د معاشاتو کموالې بولی .

جګړه د ملی اړخ له پلوه د افغانستان د روانې ملی غميزې د عواملو څخه يو ستر اړخ ده چې ملی ، سيمه ييزی او نړيواله ابعاد لری چې نه افغان دولت ، نه طالبان او نړيواله ټولنه د حل لاره ورته موندلی شي.

له بده مرغه په افغانستان کې روانه جګړه نه د نظام په بد ليدو کې حليږی ، نه په ټول ټاکنو کې ، نه د لويی جرګې له لارې او نه د دولت او طالبانو په خبرو اترو کې ځکه چې افغان حکومت او طالبان د جګړې يو اړخ دی يعنې د جګړې کورنۍ اړخ چې ډواړه خوا زړه نا زړه غواړي چې جګړه په افغانستان کې ختمه شی خو د نورو اړخونوسترګو ته يی ګوري.طالبان جنګی افراد لری خو د دولت جوړولو د پاره نه پلان او نه پروګرام لري خو يوازې واک غواړی مګر د کابل حکومت چې د دولت جوړولو دپاره پلان او پروګرام لري نه واک لری او نه ځواک او د اراری فساد په ناروغی کې اخته شوې دی او بهرنيو ځواکونو ته اړتيا لری. د طالبانواو د کابل حکومت د خبرو اترو بهير هغه وخت ناکامه شو چې په کابل کې دملګروملتونو ويائد د ولس مشر حامد کرزی خبره رد کړه اووې ويل چې د کابل اداره د هغو کسانوسره


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خبرې نه کوی کوم چې د دوی نومونه یی په تورلست کې دي دا ثابتوی چې د جګړې نړیواله اړخ ډیر غښتلی دی ځکه چې القاعدې او استخباراتی ټولنو طالبانو ته نه پریږدی چې بې له قیده او شرطه خبرو ته کینې او نړیواله ټولنه کابل حکومت ته نه بریږدی چې بې له قیده شرطه د خبرواترو لاره پرانیزي. بهرنیان د افغانستان خاوره او پښتونخوا د جګړې د ډګر په توګه کاروی ، هر اړخ یی خپل اوږد مهاله او لنډ مهاله سیمه ییزې او نړیواله استراتیژیکه اهداف لری او دخپل هدف د لاسته راوړلو دپاره د افغانستان په خاوره کې جنګیږي.
د افغانستان په خاوره کې د جګړې ستر اړخ هغه اړخ دی چې د هغه په وړاندې په 2001کال ګې نړیواله ضد تروریزم جګړه پیل شوه یعني د القاعیدې ډله یوه ارخ او دجګړې بل اړخ د متحد ایالاتو په مشری د ناتو په شمول نړیوالې آئتلاف جوړوی.له هغه ځایه چې دا د امریکا اوالقاعیدې جګړه د افغانستان اوپښتونخوا په خاورو کې دي ، طالبان او قبایلی پښتانه د خدایی خد مت ګار په توګه خپلې خاوره د جګړو میدان ګرځولی دي او د جګړې دواړه خواوې خپل اهداف لری نو افغانان یا افغان دولت دا نړیواله جګړه ختمولای نشي تر څو چې د تروریزم ضد جګړه په نړیواله سویه لکه سوړ جنګ ختم نشي.
د نړیوالې آئتلاف د ضد تروریزم د جګړې د ګټلو د پاره د امنیت دشورا د پریکړی سره سم په کابل کې یوه سیاسی نظام ته اړتیا درلودله. دبن دتړون په نتیجه په کابل کې د شمال تلوالې پربنست داسې حکومت ټینګ شو چې دهغه په راس کې یو پښتون وی او دا حکومت په ماهیت کې یو آئتلافی ډوله ، سهامی ډوله ، قومی ډوله وخوت. او نړیوالې ټولنې دغه نظام سره ، اقتصادی ، سیاسی او پوځی مرستې وکړې او
ورته دنده وسپارله چې په افغانستان کې ولسواکې ټینګه کړي خو پس له شپږ کاله د نظام سالاران په ښکاره نارې وهې چې نظام په اداری فساد کې ډوب شو ، د ځمکې مافیا ، د مخدره موادو مافیا ، د آزاد مارکیت ما فیا د ولس په برخلیک کې واکمن شو.دا ولې؟ ځکه چې دبن تړون بنست کوږ کیښودل شو یعني د نه یواځې د پخوانی پاچا درې فقره یی پلان چې د هغه وخت سیاسی بدیل یا آلترناتیف حیثیت درلود بلکې پخوانی پاچا د افغانستان دسیاسی ډګرڅخه وایستل شو او دبلې خوا نړیواله ټولنه او په تیره بیا د امریکا پخوانی د دفاع وزیر سخت کوښښ وکړ چې پښتانه د افغانستان د پوځی ، سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز ډګر څخه وباسی یا په انګریزی اصطلاح پښنتانه په افغانستان کې مارجنل لایز کړی او په دې کارهم بریالی شو ځکه چې پښتانه د طالبانو د رژیم په نسکورولو کې په لوی لاس برخه نه ؤ اخستی نو د نړیوالې ټولنې له خوا مجازات شول( دافغانستان د موقت او انتقالی حکومتونو پوځی او اداری جوړښت ته مراجعه وکړی). د بن د تړون د لاس لیک کیدو په وخت کې نړیواله ټولنه عقیده درلوده چې پښتانه د تروریزم ضد په جګړه او د طالبانو په ځپلو کې برخه نه دې اخستې نو مستحق دحکومت کولو نه دی نو په نتیجه کې پښتانه په سمبولیکه توکه اولږه کې قوم په توګه د افغانستان په پوځی او اداری چارو کې په موقت او انتقالی حکومت کې برخه درلودله. دپښتنو نشتوالې د افغانستان په پوځ ،امنیتی او اداری چاروګې له یوې خوا او د مصلحتی اوغیر مسلکی نظام د بلې خوا سبب شو چې په افغانستان کې د موقت او انتقالی حکومت په دوران د افغانستان ملی د پنځوس زرو نه ریات نشی او پولیس او اسخباراتی دستګاه په لولاس د شمال قوماندانو ته ولویږی او امنیت په هیواد کې ټینګ نشی.دبلې خوا نړیوال ځواکونه پښتنو ته دشک په ستروګوری دقومی مشرانو چې غوښتل کابل نظام سره اړیکې ټینګ کړي بمباری کړي او د ودونو په مراسموکې باربار بمباری وکړی نو په نتیجه کې امنیت په افغانستان کې تینګ نشو نو د بیارغاونې کار په اګاهانه یا نا آګاهانه ډول په لویه کچه د پښتنو په سیمه کې دځنډ او خنډ سره مخامخ شو. که څه هم د منتخب حکومت پیلیدو سره افغان دولت او نړیواله ټولنه متوجه شول چې قومی انډول په پوځی ، اداری اوفرهنګی چارو کې دپښتنو د نارضایتی سبب شوي ده او د پښتنو سیمی دبې امنیت ډګر او د خاشخاشو په کرونده باندې شویه ډیره هڅه وکړل متعادله او متوازنه مسلکی نظام منځته راوړي او نه په سمبولیکه بلکې په عملی توګه د افغانستان په دولت کې شامل کړی خوله بده مرغه د پاکستان ، ایران او روسیی استخباراتی سازمانونه د بلې خوا د طالبانو بقایاوی ، د مخدره موادو مافیا ، دکابل د رژیم څخه ناراضه ولس او د القاعیدې تروررستی ډله د افغانستان د پښتنو به سیمه کې سیاسی او پوځی ډګر ته داخله شی او ابتکار په لاس کې واخلی افغانستان اعراقیدوخواته وډانګي او د امریکا دپاره په افغانستان کې بله جبهه جوړه کړي او دغو عوامل دي چې د په افغانستان کې د بې ثباتی او د کمزوري نظام ستر لاملونه ګڼل کیږی .دبلې خوا متحده ملی جبهه چې نیمایی برخه د دولت او ملی شورا جوړوي د کرزی دولت سره ستراتیژیک اختلاف لری په دې معنی چې متحده ملی جبهه صدارتی نظام غواړی او د کرزی ولس مشری بنه لری او د ولس مشر لومړی مرستیال او دکابینې یوشمیر غړي د دولت اپوریشن جوړوي چې د نړی په هیڅ ګوټ کې داسې نظام نشته او باید کمزور وی او دا دولت د نړیوالې ټولنې په مالی با پوځی مرستې نه غښتلی کیږي. د دولت جوړښت کې نړیواله ټولنه نه غواړي چې ژور بدلون راوړي ځکه چې نړیواله ټولنه چې د افغانستان د پوځي ، سیاسی او اقتصادی موتور څرخوي اټکل کوی چې د افغانستان جنوبی سیمی بې ثباته ده او که دشمال تلوالې واک داران که څه هم په بې کفایتی او اداری فساد متهم وی د واکه لری کړي نو شمال هم دجنوب په شان بې ثباته کیږی. که چیرې دا طرز د تفکر رښتیاوی که هرڅومره ملت نارې ووهی په اوسنې


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

نظام کې بنسټیزه سیاسی اصلاحات منځته نه راځي.
دپښتنو سرحدی قبایل د افغانستان په استقلال او امنیت کې ستر تاریخی نقش لوبولی دی. د افغانستان د خپلواکې به جګړه کې د انګریزانو لوی پوځی چونی ګانې ټل او وانه په شمالی او جنوبی وزیرستان کې د قبایلو په مرسته مات شوې، دجهاد په دوران کې قبایلی سیمې د افغان مجاهدینو اکمالاتی مرکز او د افغان مهاجرینو کورۀ ، خو نن د افغانستان په نا امنیو کې ستره ونده لری د افغانستان د روان نا امنیو بله لامل د سرحدی قبایلو منفی ونده د افغانستان اوپښتونخوا په امنیت کې ده.
د دیورند د کرغیړن کرښې د غزیدو څخه د ثور تر کودتا پورې سرحدی قبایل دافغانستان د دولت سره ولاړه ؤ نو ځکه پنجابی پوځ او استخباراتی سازمان او د هغه روزل شویو اجنتانو ډیر هڅه وکړه چې افغانستان بې ثباته کړی خو بریالی نشو ځکه چې قبایل نه پریښودله چې پاکستان قبایلی سیمې د استخباراتی او اکمالاتی سیمه په توګه د افغان دولت پرضد استعماله کړي البته داهم باید وویل شي چې د قبایلو ریاست په سرحدی علاقو کې د پنجابیانو پوخی او استخباراتی فعایتونه له نژدې څارل نو ځکه په افغانستان کې امنیت ټینګ ؤ. اوس قبایلی سیمه مسقیماً د اسلام آباد د واکدارانو تر نظارت لاندې دی او هر ډول سیاسی فعالیت او ګوند جوړول په قبایلو کې منع دی نوځکه د قبایلو سیاسی ، کلتوری او ټولنیزي ذهنیت دنړی تر هر ګوت څخه تیټ ده او قبایل بې هدفه ټوپک ګرځوي او القاعیدې اواستخباراتی سازمانونو د ګټې د پاره سر شیندي.
پاکستان د خپل جوړیدو سره جوخت په کمین ناست و چې څنګه افغانستان بې ثباته کړی او د دیورند کرښې مساله د افغان دولت د ذهن څخه وباسې او قبایل پنجابی پلوه کړي او د افغانستان د بې ثباتی له پاره یوه اکمالاتی او لوژستکی اډه وګرځوی خو روسانو تاریخی طلایی موقع ورته برابره کړه د ثور دکرغیړن کودتا څخه ورسته افغانستان خپل استقلال بایلله او پنجابیان د امریکا په مرسته په قبایلو کې د سیاسی ابتکاربشیرازه په لاس کې واخست. هغه وخت آفغان مجاهدین ، پنجابیان او آزاده ضد کمونستی نړی مشترکه وجهات درلودل خو د افغان جهاد دبریالیتوب د پیلیدو سره سم تشدد پلوه استخباراتی بنسته سیاسی اسلام د عنعنوی اسلام چې د پښتنو د دودو پرپښست ولاړه وه ځای ونیول او په پای کې د قبایلو سیمه د القاعیدې اکمالاتی ،روزنیز او د بشری قواوو په مرکز باندې بدله شوه.پنجابیانو د افغانستان د تضعیفولو د پاره د القاعیدې سره دومره زیاته مرسته ورکړه چې اوس القاعیده د پاکستان د بې ثباتولو په ډکر بدله شوې ده.افغان دولت او نړیواله ټولنه هم دې ته متوجه شوه چې د افغانستان سیاسی ثبات په هغو سیاسی او پوځی فعالیتونه اړه لری چې په قبایلی سیموکې ترسره کیږی او دغو فعالیتونو د مهار کولو دپاره د کابل حکومت پلان د امن جرګه دایرول وه خوله بده مرغه قبایل او د القاعیدې ،طالبان ، د پاکستان ، ایران ، روسیې او هغو ډلو په استخباراتی ، روزنیز او اکمالاتی مرکز باندې بدل شویده کوم چې غواړی امریکې او ناتوته د افغانستان په خاوره کې ماته ورکړي همدغه دلي دی چې د افغانستان د جګړې نور اړخونه جوړوی او له همدې کبله ده چې دا جګړه په افغانستان کې د افغاني جرګو او مرکو له لارې نه حلیږی.پکاره ده چې د دیورند د کرښې د دواړو غاړو قبایلی جرګه جوړه شي ، قبایل منضمه شي اوهغوی سره اقتصادی ، سیاسی او پوځی مرستې وشي او په قبایلی سیمو کې ښونځي او پوهنتونه او تلویزیونو فعاله شی ترڅو چې دقبایلی ټولنې د ژوندانه بنست مات شی او دسرحد قبایل د پنجاب او افراطی عربو فدایی سرباز نشې. خو دا هغه چې پاکستان په هیڅ صورت نه قبلوی مګر داچې نړیواله ټولنه په زور په پنجابیانو ومني او زور هغه شی دی چې پنجابیانو ورته سر په آسانی ټیټوي.
د افغانستان د نا امنیو بله سبب د افغانستان ګاونډیو هیوادنو ستراتیژیک پلانونه دي. پاکستان په افغانستان کې ضعیف او لاس پوسې نظام غواړي او د بلې خوا د امریکا موجودیت په افغانستان کې نه غواړي. دا ، دغه معنی نه لری چې پاکستان بهرنی عسکر زغملی نشي که امریکا خپل پوځی اډه په پنجاب او سند کې جوړه کړی دسل کالو دپاره غلامی مني او خپله غلامی ثابته کړی هم ده. پاکستان دې نه ډاریږی چې مبا دا د ناتو قواو په موجودیت کې یو غښتلی ملی ، اسلامی ولسواکه نظام افغانستان کې جوړشی.
ایران که څه هم دبن په تړون کې د ایران پلوه ګوندونو له لارې خپلې ګټې په افغانستان کې خوندي کړي دی خو امریکا او ناتو په ډاګه ویلی دي چې اتومی ایران زغملی نشي نوځرګنده خبره ده چې ایران غواړی چې امریکا په افغانستان کې په جګړه کې ښکیل شي ترڅو چې ایران ته تاوان ونه رسوي. د شانګای ټولنه د ناتو بریالیتوب په افغانستان کې په خپل ګټه نه وینی نوبې شکه غواړي چې امریکا په افغانستان کې په جګړوښکیل شي. د ناتو قواوې په بې رحمانه توګه عملیات او ورځ په ورځ د کابل حکومت ځینې شکایت کوی او د افغانستان دبې ثباتی لامل ګرځیدلی او د افغان حکومت ملی واکمنی له منځه وړی ده او نه دومر افغان پوځ سره مرسته کوی چې هغه په خپل پښو ودریږی.
په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de